شریعت
ورځپانه
SHARIAT DAILY
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتی ارګان

شپږم کال ۳٤ مه ګڼه پرله پسې(٤١٤)ې یکشنبه د١٤٢٢هـ ق کال د صفر المظفر(٢٦)
د ١٣٨٠هـ ش کال د غبرګولي د میاشتی(۳۰) د ۲۰۰۱ میلادي کال دمي (۲۰)

در دور سوم واکسیناسیون :

پنج ونیم ملیون طفل در سراسر کشورواکسین میگردد

تا اخیر سال ۲۰۰۱ م مرض فلج اطفال از افغانستان محو خواهد شد

کابل :
دور سوم کمپاین بهاری واکسیناسیون دیروز در سراسر کشور اغاز گردید .
آژانس اطلاعاتی باختر خبرداد :
محترم ملامحمد عباس اخند وزیر صحت عامه در حالیکه محترم شیر محمد عباس ستانکزی معین عده از روسای آنوزارت و برخی از نمایندگان موسسات خیریه بین المللی نیز با ایشان همراه بودند صبح دیروز به کلینیک میرویس میدان رفته وبا چکانیدن دو قطره واکسین پولیو دردهن یك طفل و تطبیق ویتامین ای دور سوم کمپاین بهاری واکسیناسیون را در سراسر کشور اغاز نمود .
محترم ملامحمد عباس اخند وزیر صحت عامه طی مصاحبه به خبرنگار آژانس اطلاعاتی باختر گفت: در دور سوم کمپاین واکسیناسیون که به ابتکار وزارت صحت عامه وهمکاری

ص ٤

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډیر نږدي دی تقوا(پرهیز ګاری) ته .

(سورة المائدة)

دعامي روغتیا محترم وزیر په کابل کی دایمر جنسی روغتون په هکله وویل :

دایمر جنسی روغتون چارواکو دمقرراتو مراعات نه کاوه

هغوی له اسلامی شوری پرته روغتون ترلی دی

نوی پروتوکول او تفاهم ته چمتو یو

کابل :
دکابل په ښار کی دایتالیا دایمرجنسی روغتون چاراکو دافغانستان داسلامی امارت له نافذو قوانینو څخه سرغړونه کړیده او دافغانستان داسلامی امارت دعامي روغتیا وزارت له مقاماتو سره له تفاهم او خبرو پرته له افغانستان څخه وتلی دی . دافغانستان داسلامی امارت دعامي روغتیا وزیر محترم ملامحمد عباس آخند د

٤ مخ

دریاست الوزرأ اقتصادی مرستیال دترکیی له سفیر سره وکتل

جلال اباد :
دریاست الوزرأ اقتصادی مرستیال او دخپیخ زون تنظیمیه رئیس محترم مولوی عبدالکبیر پرون دجلال اباد په ښار کی دافغانستان لپاره دترکیی له سفیر ښاغلی ابدمیر ارمان او دبشری مرستو له ناظم او له ملګری هیأت

٤ مخ

دبهرنیو چارو وزارت محترم معین دنړی دخوراکی مواد ودپروګرام ددفتر له مرستیال سره په کتنه کی :

تفاهم لیکونه په خپل قوت باتی دی باید ددواړو لوروله خوا رعایت شي

کابل :
دافغانستان داسلامی امارت دبهرنیو چارو وزارت معین محترم ملا عبد الرحمن زاهد پرون له غرمی مخکی دخپل کار په دفتر کی په کابل کی دنړی دخوراکی موادو دپروګرام دسازمان د دفتر له مرستیال سره وکتل . دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ : ددغی کتنی په بهیر کی لومړی په کابل کی دنړی دخوراکی موادو

٤ مخ

یوه ډله قطاع الطریقان ونیول شول

کابل :
یوه ډله قطاع الطریقان چی دکابل کندهار د لویی لاری په اوږدو کی یی په شوکماری لاس پوری

٤ مخ

در جاده تاریخی میوند کابل چه میگذرد ؟

کابل شریعت :
توقف ، بارګیری ودوباره حرکت صدها عراده واسطه بزرگ باربری بالای دوطرف جاده میوند درشهر کابل امروز بزرگترین پرابلم ترافیکی را درین جاده تشکیل داده است که عمده ترین تاوان را درین زمینه صدها دوکاندار در دوطرف این جاده متقبل گردیده اند .
گزارشگر مادر زمینه چنین گزارش میدهد :

ص ٤

درولسوالی بهارك تخار

برای مستحقین مواد غذایی توزیع گردید

تخار:
مقدار یکهزار وپنجصد سیر آرد وپنج ویکهزار و سه صد قطي روغن اخیراً به خانواده های مستحق ولسوالی بهارك ولایت

ص ٤

مساعدت به مهاجرین کمپ های ولایت هرات

هرات :
به ارزش حدود ۹٤ هزار دالر مساعدت بشر دوستانه موسسه ای دی ای اخیراً برای دوهزار فامیل بیجا شده کمپ های مهاجرین هرات توزیع گردیده است . آژانس اطلاعاتی باختر خبر داد . مساعدت متذکره که شامل یك

ص ٤

دکونړ په ځنګلونو کی لګیدلی اور ووژل شو

کونړ:
هغه اورچی په ... دی ورو ستیو وختونو کی دکونړ ولایت په اروند و طبیعی ځنګلونو کی لګیدلی و لله الحمد په بشپړه توګه

٤مخ

دلوګرولایت دمحمد اغی په ولسوالی کی :

دمدرسی دبنسټ ډبره کیښودل شوه

لوګر
دلوګرولایت دمحمد اغی ولسوالی دمغل خیلو په کلی کی په دی ورو ستیو وختو کی دیو لړ مراسمو په ترڅ کی دیوی دینی مدرسی

٤مخ

دوکتور محمد حلیم «تنویر» درمصاحبه باروزنامه سهار :

کمونستها ی خلق وپرچم مقیم هالند به عنوان جنایتکاران جنگی تحت محاکمه قرار گرفته اند

جامعه بین المللی وسازمان های بشری جنایات قاتلین مردم افغانستان را مورد مطالعه قرار داده واکثرکمونست های سرشناس راکه در راس امور رژیم ها ی دست نشانده قرار داشتند شناسایی کرده وتحقیقات درمورد ایشان ادامه دارد . هم اکنون دوسیه ۱۲۲۵ تن از کمونستان افغانستان تحت مطالعه قرارگرفته که از جمله ۱۵۲ تن آن ها درفهرست

ص٤

محترم مولوی محمد انور« مفکر » رئیس ناحیه اول شهر کابل :

طي سال ګذشته :

عوایدناحیه اول شاروالی را مبلغ(١٠٦٧٨٠٠٠٠٠) افغاني احتوا میکرد

کابل شریعت :
ناحیه اول از جمله آن نواحی شهرکابل است که صدمات زیادمالی وجانی را درزمان جنگهای ذات البینی گروه های متخاصم وحکومت های قبلی احساس نموده است . ساکنین این ناحیه از منازل خود مهاجر گردیده بودند

ص٢

ادویه تولیدی ریاست امور فارمسی در رقابت باکمپنی های خارجی قراردارد

کابل:
ریاست عمومی امور فارمسی وزارت صحت عامه به ارزش سیزده ملیارد ونه صدوپنجاه ملیون افغانی ادویه وسامان الات طبی را از طریق ستاك مرکزی وعمده فروشی های مرکز وولایات درسال

ص٤

دمعالجوی طب په مرکزی لابراتوارونوکی:

په وریاتوګه هره ورځ سل لابراتواری کتنی ترسره کیږی

کابل:
دعامي روغتیا وزارت دمعالجوی طب دلوی ریاست مرکزی لابراتوار په سمبالو عصری وسایلو او سامان آلاتو سره هره ورځ څه دپاسه سل لابراتواری کتنی ترسره کیږی . دعامي روغتیا وزارت دمعالجوی طب لوی رئیس محترم

٤مخ

دلوګر په سپیخ کلی کی :

دیوه جامع جومات دبنسټ ډبره کیښودل شوه

لوګر:
دلوګر ولایت د سپیخ په کلی کی دیوه جومات د بنسټ ډبره پرون دیوی غونډی په ترڅ کی کیښودل شوه .

٤مخ

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د امنیت شوری بندیزونه - دافغانانو دکړاو سترلامل

داحقیقت هرچاته څرګند دی چی ګران هیواد افغانستان د اقتصاد ، صنعت او تولید له پلوه ډیر نیمګړی او وروسته پاتی ملک دی چی روسی یرغل او تپل شوو دریشت کلنو جګړو نورهم د ترقی او پرمختګ له څغل نه وروسته کړی ، دژوند او اقتصاد ټول بنسټونه یی نړولی او بی درکه نور ډیر مشکلات یی منځ ته راوړی دی . برسیره پر دی روانی وچکالی هم داستونزی څو واره زیاتی کړی . دغلو دانو حاصلات یی په نیمایی درولی ، څاروی په سلوکی پنځوس له منځه تللی او په زیاتره کلیو کی دصحی اوبو درک نه لګیږی . خو داټولی ستونزی هغه مهال لاپسی اغیزمنی شوی

۲ مخ

حضرت محمد «ص» ته دسپکاوی له امله :

په پاکستان کی دطب یو استاد محکمی ته کش کړای شو

بهرنی خبری منابع :
په پاکستان کی دطب یو استاد په دی تورمحکمی یا عدالت ته راکش کړای شوی چی وایی دمحمد «ص» په هکله یی سپکی خبری خولی نه وتلی وی . داکتر یونس شیخ نومی استاد څینی شاګردان د نوموړی له خولی وایی چی محمد «ص» تر څلویښت کلنی پوری مسلمان نه وا ونه یی مور او پلار مسلمانان و یوه څایی ملا ددی استاد په ضد ریوټ درج کړیدی . پاکستان کی ددامی سپکاو ی ستراغبرغره ده خو ډاکتر شیخ دسپکاوی خبره ردوی او وایی چی دهغه له خبرونه داسی خلکو غلط مطلب اخیستی دی چی دهغه سیاسی نظریې ندی خوښ.

در اثر حمله وحشیانه هوایی صهیونیستها

۱۲ تن فلسطینی به شهادت رسیدند

نیوریاك :
تشدید برخورد ها میان مجاهدین فلسطینی واشغا لگران صهیونیست موجب نگرانی شدید جامعه بین المللی شده است .

ص ٤

عملیات مشترك مبارزان کشمیر برقوای هندی تسریع شده است

سرینګر:
عملیات مشترك مبارزان کشمیر برقوای هندی تسریع شده است در این درگیری ها پیش از ۲٦ عسکر هند کشته وچندین تن دیگر مجروح شده اند عملیات از سوی

ص٤

نګاه ساکت

۳مخ

دکیني اور

دفلسطین مشرياسرعرفات :

فلسطینیان په ګونډ وکیدونکی نه دی

بهرنی منابع !
دعرب لیګ سرمنشی عمر موسی وایی چی دعربی هیوادونو دبهرنیو چارو وزیران په دی خبره یوه خوله شوی چی داسرائیلو پرضد فلسطینی پاڅون به په هره بیه جاري وی . ښاغلی موسی په قاهره کی دعرب لیګ په بیړنی غونډه کی داخبره کړیده . په دی غونډه کی

٤مخ

دښاغلی قادری ملاتړی باورنه لري چی پولسیان به دهغه وژونکی پیدا کړی

بهرنی خبری منابع :
دپاکستان دکراچی په ښارکی چارواکو ویلی دی چی دهغه محور مذهبی مشر په جنازه خلك ورمات دی چی ورمه ورځ ویشتل شوی و . دسنی تحریک د صدر مولانا قادری په جنازه کی دنوموړی ملاتړی په داسی حالت

ص٤

شریـعت

د تاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج ملا اسدالله «حنیفي»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دبوي ګڼي بيه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغاني په پاکستان کې (۳) کلداري
ټیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات : ٦۲۸٥۹
پست بکس : (٤۷۱) کابل افغانستان
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

چې کله امنیت شورې له افغانانو سره دمرستې په ځای له غرض او دښمنۍ ډک بندیزونه ولګول او په دې توګه یې په افغانستان کې دجګړې اوروته لا ژبغړاند کړل او داځکه چې نوموړي بندیزونه یوازې په اسلامي امارت لګول شوي چې په ډرګنده له مخالفینو سره دملتیا پیغام لري. له بلې خوا داچې افغانستان په وچه کې بوړا ایسار هیواد دی او ټول داړتیا وړ شیان له بهره دځمکې او هوا له لارې را وړل کېږي او داهم معلومه ده چې موږ په خپله هیڅ نه لرو او دژورند له ړومبنیو ضروریاتو نیولې تر اضافیاتو هرشي په بیه اخلو نو ځکه مو په دې برخه کې کړاوونه لا زیات شول . ددې بو لامل دا هم دی ډیر داسې شیان لکه دارو درمل چې دګرمۍ او یخنۍ زور نه لري دموټرو له لارې ... خې له منځه ځي او خپله ځانګړتیا له لاسه ورکوي . همدارنګه بندیزونو د پانګوالو او بهرنیو شرکتونو لیوالتیا کمه او شخصي پرمختیایي کارونه یې په ټپه ودرول خو په دې لړ کې د آریانا - افغان هوایي شرکت فعالیتونه ځنډېدل تر ټولو سخت ګوزار ؤ چې له یوې خوا یې په خپله دشرکت الوتکې له تخنیکي ستونزو سره مخامخ کړې او له بلې خوا یې بهرته دځینو تاروغانو لیږدونه او دننه هیواد ته د دارو درملو واردات ټکني کړل . همدارنګه باید و وایو چې د امنیت شورې بندیزونو له نړۍ سره د افغانانو اړیکې او راشه درشه ډیره اغیزمنه کړه چې په دې توګه افغانستان ته په دې حساسو شرایطو کې دمرستو رارسول هم له ډېرو مشکلاتو سره مخامخ شوي دي . نو په دې اساس که چیرې ملګري ملتونه او نور مؤثر هیوادونه په دې برخه کې بېړني اقدامات ونه کړي ، ښایي په افغانستان کې یوه داسې انساني غمیزه منځ ته راشي چې بیا به یې نه یوازې نړیواله ټولنه هیڅ کنټرول نه شي کولای بلکې مسئولیت به یې هم خامخا د دوی په اوږو باروي . موږ یوځل بیا په کلکه غوښتنه کوو چې ملګري ملتونه باید د افغانانو په ستونزو ښه غور او دبې موجبه بندیزونو دلرې کولو لپاره جدي قدم واخلي .

د اسلامي نړۍ ستونزې او دهغوی لاملونه

ملا محمد اصغر «عاکف»

په قران کریم کې داحقیقت ښه روښانه شوی چې د ټولو اسماني دینونو اصول یو بل ته ورته او پوره برابر دي مګر دعملونو او عباداتونو په طریقو او کیفیت کې یې ښکاره توپیر او مغایرت موجود دی ، په دې معنا چې دحضرت موسی علیه السلام د بعثت په زمانه کې هغه عملونه نیک ، غوره او دمنلو وړ ؤ چې د تورات له لارښوونو سره به برابر ؤ او دعیسی علیه السلام په زمانه کې بیا هغه عملونه غوره ګڼل کېدل چې د انجیل له حکمونو سره به موافق ؤ ، همدارنګه اوس د اسلام په سپیڅلي دین کې هغه عملونه ، عبادات ، اخلاق ، رسوم او عنعنات حق ، غوره او دمنلو وړدي چې دقران کریم له هدایاتو او دخدای دغوره استازي حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له ژوندښوونکو ارشاداتو سره اړخ لګوي .

اوس چې دامطلب روښانه شو چې د اعمالو د فضیلت او ښه والي بوازنی معیار دخدای «ج» د استازي محمد «ص» او دقران کریم هدایتونه ، غوښتنې او لارښوونې دي اوبس ، نو داچې په قران کریم کې د یهودو او نصاراؤ ترمنځ پخپلو کې ځینې هغه ادعاوې بیان شوې چې یوې دلې په بلې دلې باندې د ځان دښه ګڼلو فضیلت او دجنت دمستحق بللو دلایل وړاندې کړي او وایي چې زموږ دله په حقه او دابله ناحقه ده . ځکه چې موږ د پلانکي ځای استوګن یو ، دهغه پیغمبر اولاده یو او په هغه ژبه ګړیږو مګر خدای «ج» دهغوی دا ډول اختلافونه چې پخپلو نفسي غوښتنو ، انګیرنو او تشو خیالونو یې را پیداکړي په ټینګه ردوي او د دوی دجهالت او ناپوهۍ خبرې یې ګڼي ځکه چې په اصل کې دغو دواړو دخپل دین او مذهب اصلي روح ، عقاید او عملونو ته شا ګرځولې او په سپین سترګۍ سره دخپلې ګمراهۍ او بې لارېتوب له امله د خپل غوره والي او فضیلت معیار دا ډول سیمه ییز ، پرګنیز او نژادي تعصبونه رامخې ته کوي په دې توګه دیهودو او نصاراؤ ترمنځ دا ډول اختلافونه دا معنا نه ورکوي چې ګواکې هغوی هر یو په خپل دین ولاړ دي او هڅه کوي چې خپل دین حق وښیې او په بل دین باندې دهغه دفضیلت مقام حاصل کړي بلکې دا د دوی د لاګمراهۍ او غلط فهمۍ ثبوت دی ځکه چې دا دواړه دینونه یوهم بې اصله او بې بنیاده نه دي بلکې دوی ورڅخه بې لارې شوي او دهغوی روح یې نه دی پېژندلی او غوښتنې یې نه دي منلې ، خدای «ج» په قرانکریم کې داخبره ښه روښانه کړې چې مسلمانان باید ښه پوه شي چې یوازې دځان په مسلمان ګڼلو ځوک رښتیني مسلمان نشي کیدلای او یا داسې ووایي چې زما مور پلار او نیکونه مسلمانان تېر شوي او یاداچې زه د پلانکي قوم اونسب سره تړاو لرم او یا داچې خدای «ج» به موږ د اسلام په نوم وبخښي او هغه ټول نعمتونه به راکړي چې وعده یې راسره کړې بلکې مسلمانانو ته به خدای «ج» هغه مهال خپلې ژمنې ور پوره کوي چې دوی په رښتیني معنی ځان خپل خدای «ج» او دهغه حکمونو ته وسپاري او خپل ټول ژوند دخدای «ج» د استازي حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په سنت عیار او برابر کړي لکه چې خدای «ج» فرمایي ژباړه : ولې نه ، هرڅوک چې ځان وسپاري خپل خدای «ج» ته او حال داچې نیک چاري هم وي نو هغه لره دخدای «ج» سره اجر دی (البقره)

داچې نن سبا د نړۍ مسلمانان او اسلامي هیوادونه له رازراز ستونزو سره مخامخ دي ، بې وسي په مسلمانانو راغلې ، خواشیني دمسلمانانو په برخه دي او دکفارو تر رعب لاندې مسلمانان راغلي ، په حقیقت کې د دغو ټولو ستونزو لامل دادی چې مسلمانان له اسلام نه ګوښه شوي او د اسلام روح یې نه دی درک کړی او اسلامي اعمال یې سرته نه دي رسولي ، مسلمانانو له غربیانو سره اندیوالي پیل کړې او په سوغات کې یې دهغوی پوچ کلتور او ثقافت په ځان تحمیل کړی او دغربیانو دمادي ژوند د پرمختګ تر اغیزې لاندې راغلي او په خپلې بیوسۍ لا باوري شوي دي او همدا سبب دی چې ورځ تربلې ورځې له ذلت سره مخامخ کیږي.

بله داچې که څه هم مسلمانان د اسلامي اعمالو په سرته رسولو کې کمزوري دي او لکه چې ورسره ښایي هغسې یې اسلام او د اسلام حکمونو ته غاړه نه ده ایښې مګر بیاهم مسلمانان خودي او د اسلام نوم په خوله اخلي او زیاتره شعایر پرځای کوي په تېره بیا هغه مسلمانان چې ترخپله وسه یې بیا هرڅه کړي ، هم یې ځان اسلام ته سپارلی او هم یې اسلامي حکمونه په ځان عملي کړي نو ولې دي دومره ستونزې وګالي ؟ او دژوند په ټولو ډګرونو کې دومره وروسته پاتې شي ؟ له بلې خوا کفار چې له هرډ پلوه په طغیان ، ګمراهۍ ، ظلم او فساد کې لګیا دي بیاهم دښه ژوند څښتنان دي او نن خو په نړۍ همدغه کفار دي چې په ډېر ظلم او استکبار یې له ملتونو او هیوادونو غیرراتاو کړي او په ډېر کبر او غرور سره دځان ظلم د مسلمانانو له عدل نه غوره او پورته ګڼي ؟ ددې پوښتنو ځواب دادی چې ځنګه متعال خدای «ج» د انسانانو په هر یوه عمل کې ګوښې ګوښې ځانګړتیاوې او خصوصیتونه اچولي دي دساري په توګه په سوداګرۍ سره شتمني او پانګه ډېریږي او ناروغي په درملنه له منځه ځي نو که څوک شپه ورځ سوداګري کوي نو پایله به یې دا وي چې مال او شتمنه به یې زیاتیږي خو ترڅو یې چې ناروغ ته دوا درمل نه وي ورکړي ناروغ نه جوړیږي اوس نو که کفارو پرمختګ کړی دا له دې امله نه دی چې دوی دي خپل کفر دغې درجې ته رسولي بلکې هغوی دمادي وسیلو لټون کړی ، هلې ځلې یې کړي نو ځکه یې داسې پرمختګ کړی او مسلمانان چې وروسته پاتې دي او دکفارو غوندې یې پرمختګ نه دی کړی په دې خاطر نه دي چې دوی مسلمانان دي او ټول نعمتونه به په اخرت کې مومي او په دنیا کې یې برخه نشته بلکې دمسلمانانو د وروسته پاتې کیدو علت دادی چې دوی د ژوند د پرمختګ دوسیلو لټون نه دی کړی په پای کې باید ووایو چې دمسلمانانو په مخ کې د موجودو ستونزو سبب بودادی چې ځانونه یې له اسلامي اعمالو او اسلامي اخلاقو نه ګوښه کړي او بل داچې له هغو ټولو چارو یې مخ اړولی چې ژوند وریاندې سم او برابریږي .

طی سال گذشته عواید ناحیه اول ...

وتمام تاسیسات حکومتی دراین ناحیه به خاکروبه مبدل گشته بود . اما پس از استقرار امارت اسلامی درکشور منسوبین وپرسونل اداری حکومتی این ناحیه تمام تخریبات امارتی وشخصی را به بازسازی گرفته . ساختمان ها مندوی ها ، جاده ها ودکانها یکی پی دیگر اعمار میگردد که فعلاً این ناحیه مرکز عمومی تجارت ودادوستد اموال ومواد ارتزاقی شهر قرار گرفته است . از سرای تبادله اسعار ، مندوی ها ومارکیت های بزرگ مواد ارتزاقی گرفته تا مدارس ، مساجد ، وخانقا ها همه وهمه درخدمت مردم قرار دارد . بخاطر برجسته ساختن کارهای که دراین ناحیه صورت گرفته خبرنگار روزنامه شریعت صحبتی دارد با محترم مولوی محمد انور «مفکر» رئیس ناحیه اول شاروالی کابل که ذیلاً تقدیم خوانندگان میگردد:

ابتدأ محترم مفکر درموردعواید سال گذشته ناحیه چنین بیان داشت . ناحیه اولّ از دیوار تاریخی شهر شروع شامل ساحات چنداول ، عاشقان وعارفان دروازه لاهوری ، باغ علیمردان ، پل خشتی وساحه مندوی میباشد که اکثرمراکز تجارتی دراین ناحیه مربوط است . از اینرو عواید پیشبینی شده این ناحیه به ده ملیارد افغانی میرسید که دراثر زحمت و پشتکار پرسونل ناحیه عواید سال گذشته ، ده ملیارد وششصد وهفتادو هشت ملیون افغانی را احتوا میکرد.

محترم رئیس ناحیه اول درجواب این پرسش کــه وضع تنظیف درمربوطات ناحیه اول قناعت بخش نیست ؟چنین بیان داشت : همانطوریکه قبلاً ذکرگردید ناحیه اول از جمله پرازدحام ترین نواحی شهر به شمار میرود واز جانبی دربخش تنظیف وسرسبزی ۲٤ تن پرسونل از طرف ریاست عمومی تنظیف وسرسبزی شاروالی دراین ناحیــه توظیف اند کــه روزانه یك موتر کثافات از کثافت دانی ها جمع وبه دشت چمتله انتقال داده میشود . باآنهم ناحیــه اول باهمکاری اهالی ووکــلای گذر درتنظیف شهر سهم فعال گرفته است کــه به طور نمونه پاك کاری آبروهای عمومی ساحه کاه فروشی و ساحه پخته فروشی را میتوان نام برد . دربخش خدمات اجتماعی ، ناحیه اول طی یك هفته بیشتر از دوهزارخــواهربی بضــاعت را شناسی وعرایض آنهـا را غرض اخذ کمك رسماً به وزارت شهدا ومهاجرین وجمعیت هلال احمر افغانی معرفی کرده ازاین تعداد تاحال حدود دوصد تن آن از کمك های بشــری این ارگــانهــا مستفیدگردیده اند .درخاتمه همانطور یکه پرسونل ریاست ناحیه . اول شاروالی درقســمت پاك کاری وسرسبزی شهر تلاش های بی شایبه انجام میدهند ازاهالی گذر نیز تقاضـا داریم ازینکه هوا روز بروزگرم وشیوع میکروب ها وامراض گوناگون بیشتر شده میرود بناً همشهریان محترم کابل خصوصاً اهالی گذر مربوط ناحیه اول باید درقســمت تنظیف وپاك کاری ساحات خویش باماهمکاری بیشتر نمایند . والسلام

فلسطیني قهرمانان له پښو نه لویږي

دغلام سخي «اقر» لیکنه

د فلسطین دقهرمانو مسلمانو خلکو د مبارزو په هکله غږیږو ، هو! دهغه مسلمان او زړور ملت دقهرمانیو او قربانیو په هکله چې دشهادت او ژوبلو وینې یې په مخونو داري وهي ، تنکي ځوانان او ان داچې ماشومان یې د اسرائیلو د اشغالګرو ځواکونو له خوا شهیدان کیږي ، هو! دهغه قهرمان او مېړني مسلمان ملت په هکله غږیږو چې د وسپنو او پولادو دکتارونو ترمخ خپل ټټرونه ډال کوي ، شاته نه ځي او دالله اکبر په وېلو سره پر اسرائیلي داړه مارانو او قاتلانو زړوري حملې کوي .

دري پنځوس کاله دمخه د اسرائیلو «دولت» جوړ شو او داهغه سرطاني دانه وه چې وروسته یې بیا په ټولو عربي هیوادونو ي خپلې ریښې وغځولې ځکه چې ددې دولت په جوړېدو سره دنړیوال صهیونیزم استعماري فعالیتونه لوړې څوکې ته ورسېدل او په دې ډول یو ملت له خپل ټاټوبي وشړل شو او دهغه ځای او کور اسرائیلو قبضه کړ .

د ۱۹٤۸ م کال نه را په دېخوا یعنې د اسرائیلو د «دولت» له جوړېدو را وروسته نږدې اته سوه زره فلسطینیانو خپل کورونه پرېښي چې اوس په ټوله نړۍ کې دسخت مهاجرت شپې ورځې تېروي .

په ۱۹٦۷ م کال کې دعربو او اسرائیلو ترمنځ سخته جګړه وشوه په دې خونړۍ جګړه کې مصر او سوریې په لومړۍ لیکه کې مقاومت وکړ خو بیاهم اصلي قربانیان فلسطینیان ؤ . د دې جګړې په ترڅ کې له مصرنه د سینا دښته ، له سوریې دګولان څوکې او ورڅېرمه ځایونه او په همدې ډول د اردن زیاتې ځمکې د اسرائیلي استعمارګرانو تر ولکې لاندې راغلې .

ددغې جګړې له ټپونو لا وینې رواني وې چې د ۱۹۷۱ میلادي کال جګړه ونښته په دې جګړه کې دمصر ځواکونو د «بارسیف» پوځي کرښه په ډېرو مهارت او زړورتیا ماته کړه او په دې ډول دسویس له کاناله تېر او دسینا دښتې ته ورننوتل مصر دسینا زیاته برخه بېرته ترلاسه کړه خو دسوریې ځمکې لاتراوسه د اسرائیلو تر ولکې لاندې دي . په دې دواړو جګړو کې فلسطینیانو په میړانې سره مبارزه وکړه خو خپلواکي څه چې لا تر اوسه یې اسرائیل خود مختاري ته هم احترام نه کوي .

دحزب الله ځواکونه چې د ایران له خوا حمایه کیږي په دې وتوانېدل چې اسرائیلي ځواکونه د لبنان له جنوبه وباسي خو د فلسطینیانو یو ښار اساسي سیمې (د اردن دسیند لویدیځه غاړه او دغزې ترانګه) تر اوسه دخونړیو بریدونو او دفلسطینیانو دزړورو مبارزو صحنه ده .

د فلسطینیانو له «انتفاضې» یا قیام څخه څو میاشتې تېرې شویدي او داسې ورځ نه وه چې دي قیام په ورځو کې یو شمېر فلسطینیان شهیدان او یا ټپیان شوي نه وي ، خو نړیواله ټولنه ورته ډېره لږ توجه هم نه کوي .

روسیه اوس اوس له داسې اقتصادي ژور بحران سره مخامخ ده چې دځینو میصریښو او روسي پېژندونکو له خوا داسې سیاسي ، اقتصادي بحران ورته ویل کیږي چې روسیه به ختمه شي او یو کمزوري او بیوزلې هیواد به ورته جوړ شي . نو په دې ډول سره له دې چې دمصر جمهور رئیس او یاسر عرفات دې هیواد ته سفرونه وکړل خو په تشو لاسونو بېرته ستانه شول ځکه روسیه نه غواړي ځان له امریکې سره ان په سیاسي ډګر کې ښکیل کړي .

اروپایي ټولنه په دې موقف کې نه ده چې اسرائیلو باندې زیات فشار راوړي او ان داچې نه غواړي له اسرائیلو سره خپلې اړیکې خرابې کړي . خو بوې موضوع ته باید ګوته ونیول شي چې لویدیځ هیوادونه ټول دا غواړي چې بیت المقدس د اسرائیلو تر تصرف لاندې وي او د اسرائیلو دولت هغه خپله «موعوده ځمکه» بولي دلته ده چې موضوع خورا پېچلې کیږي او دلویدیځو هیوادونو سیاسي ریاکاري بربنډې کیږي ځکه دوي هم د بیت المقدس په هکله همدا ډول برداشت او انګیرنې لري .

په دې وروستیو ورځو کې فلسطینیانو دخپل تاریخ تر ټولو توره ورځ (د اسرائیلو د دولت دتشکیل ورځ) په سوله ییزو مظاهرو ولمانځله خو بیا هم د اسرائیلو پخواني ځواب یعنې د مشینګنو له سختو باړونو سره مخامخ شول .

د فلسطین د مسلمانو خلکو اساسي مشکل او ان داچې حیاتي مشکل او غمیزه داده چې عربي هیوادونه د فلسطین د داعیې په هکله هم غیږ نه دي او ان داچې یو شمېر دغه هیوادونه له اسرائیلو سره دیپلوماتیکې اړیکې لري خو په دې موضوع پوهېدل پکار دي چې که نن فلسطینیان د اسرائیلو د راکټونو او ټوپونو هدف دي بیې له شکه سبا به نور عربي هیوادونه یو په بل پسې د راکټونو هدف وي . دا دنړیوال استکبار دزور او فشار د ستراتیژیو اصلي کرښه ده چې اسرائیل دټولو عربي هیوادونو له پوځي پوتانسیل نه زیاتې عنصري وسلې ولري . همدا اوس اسرائیل د وسلو داسې سیستمونه جوړوي چې نه یوازې یو زیات شمیر افریقایي او اسیایي هیوادونه یې پېړي بلکې د کشف داسې پرمختللي وسایل جوړوي چې ان چین یې په ښه ښه ورنه اخلي .

نو د اسرائیلو او فلسطینیانو دموضوع حل کومه ساده لاره نه لري او اساسي لاره یې داده چې عربي هیوادونه په تېره بیا مصر ، عراق او سوریه په دې هکله ګډه پوځي ، سیاسي او اقتصادي ستراتیژي ولري کــه داسې نه وي په یوه نه یوه ورځ د فلسطینیانو ځورول او ترفشار لاندې راوستل به دوام ومومي په دې وروستیو ورځو کې د اردن د سیند او د غزې په تراړه کې سخت جنګونه شوي ، فلسطیني افسران وژل شوي او ډیره بده پېښه داده چې اسرائیلي مقاماتو ویلي چې داخل به یې ځواکونه تر یوه نامعلوم وخت پورې دغزې په تراړه کې پاتې شي ، نو یو وار بیا وبل پکارده ي چې د منځني ختیځ دسولې اصلي لاره دعربو وحدت او متحده ستراتیژي ده ترڅو اسرائیل سولې ته غاړه کېږدي .

دشعر او ادب نړی

ما تیاری له منځه وړی
امیدوار کروال

زه په غرونو کې لـوی شوی په سرو تودو خبریم
هره مورګه کې مې کور دی د پیچومو د زړه سریم
هره تره مې زانګو ده هر ګرنګ مـې د مور غیږه
په شیلو کې لویدلـی هره ورغ تر مازدیـګر یم
زه د واورو سپین ځادریم له پختی مې ویره نشته
له توپان سره ملګری شامـدام په بحـرو بر یم
طبیعت راتـه دا لویه دره ځومره ښکـلې کـړی
زه د هرناو په لمن کې د وحـشی زرکـو ګودر یم
د باران محتاجه نه یم وریځی تل دغرو په سروی
په شبنم مې غرض نشته زه د وچ اغزی ډنـډر یم
ما تیاري له منځه وړي د سپوږمی رڼاته ناست یم
تور مخونه پاکومـه زه دتوري شپـې سحـریم
څه ارامه زندګی ده پـکی هـر سړی ازاد شو
نباتات راته نڅا کړی ناست دځمـکې په تخر یم
د غازی شهید سنګر کې چې دمه شم غلی کینم
خاموشی د ننګ کیسه شی غیرت چغی کړی سنګریم
په زړهاوو خاطرې مې دخپلواک ژوندون په یاد شـی
غر پیچومی راته وایی ځومره زه کلـد وکیـر یم
لوړې څوکې مې چې هـکې د اسمان لمن ته رسی
په ټومو راکتونو د دښـمن تـل سـور تبر یم
امیدوار – مې غیږ کې ګرځي شمله لوړه مې دننګ ده
بوی دمشکو رانه خیږی دغیرت مشک او عنبر یم

د کـــاربچي!
دین محمد «درویش»

یاه کوي چي ورک نـه کړي دکار بـچي
دا د دي وطـــن د افـتخـار بـچي
رنګ - رنګ کړاونه یې تـیر کـړي دي
اوس دتـرحـم کـړي انتـظار بـچي
سرو اوشنو دورو کـــي دوي تباه شوله
اوس دسپین سبـا پـه غـیږ قرار بچي
وبي ګماريْ په کار چي خولي توبي کړي
مه شـریْ لـــه دره دا دلـدار بـچي
متو کي يې زور دي سـر کـي شور لري
شـي بـه د اسـلام دین ملیار بچي
خواره خـوارکي دعـاطـفي محتـاج
حـشان په خـپل وطـن بولي نادار بچي
ته که يې شري بل بـي په غـيږ نبـي
شي به اخر جور تـري لوي غـدار بـچي
زه او «ته» پـه نـوم به نه بېلیږو نور
دي ملي وحدت کي لـوي وقـار بـچي
زه «درویش» په څه کوم پـردي پـاچا
ځار شم بېـر سـر ددي دیار بچي

نګاه ساکت
حمید

چـهر مهرویان چو بینم روي تو آید بیاد
سنبل غلطان چوبینم موي تو آید بیاد
از تماشاي گل وگلـزار و دامـان چـمن
بستان عشق وطرف کـوي تو آیـد بیاد
چـون شـود ظاهر هلال ماه نو در آسمان
روي چـون ماه وخم ابروي تو آیـد بیاد
بوي سنبل صبحگاه چون برمشامم بگذرد
نـکهت زلـفان عـنبر بـوي تو آید بیاد
در چمن سرو خرامان را چـوبینم جلوه گر
سرو موزون ،قـامت دلجـوي تو آید بیاد
اشك غلطان حمید پرخاك وخون چون بنگرم
کشته گان نرگس جادوي تـو آیـد بـیاد

دوخت جبرئیل
یحیی «گلمزي»

ژوند چي دعشق ګرانو خبرو سره لاس بـو کـړ
سره فرهاد هم دسنـدرو سـره لاس بـو کـړ
هره ادا کـړي کـړي تـرې زولنـي جـوړوي
شوخي ښکلا دافسونګرو سـره لاس بـو کـړ
دنظر ګوتي يې راخیږي کړي اغزيـو تـرخـنګ
سترګو د یارمي لـه ګـورګورو سره لاس بو کړ
په پړي لمـن را تـه ولـوي ښـي دماتو وزرو
خیال مي د یاه ژړیلو کـوترو سـره لاس بـو کړ
چي پکي بو جهان الفت دخداي رضـابـخه ده
ما د زیـارت دمنـجورو سـره لاس بـوکړ
وخت جبرئیل دئ پري راوړي د پیـغامونـو وحـي
«یحـیی» د اوښکو پیغمبرو سره لاس بوکړ

ننګرهار ادب په پلوشو کې
علي محمد منګل

د زماني په اوږده بهیر کې دننګرهار شنه او زرغونه ښیـزه سیمـه دخپل خاص جغرافیایي موقعیت له مخې په بیلو بیلو نومونو یاده شوی چې دهغې څیـړنه ځانتـه ځانګړی تاریخي او جغرافیـایي بحث غـواړی او دلتـه مور دموضوع په ارتباط ورځنـه تیره کوو .

د ننګرهار لرغوني او ځنډن ولایت د اوسني افغانستان په ختیځ کې واقع دی ، دد غه ولایت مرکز دجلال آباد ښکلی او تاریخي ښار دی چې له ځنډنی زمانی نه آباد او سـمسور ودان شوی او وخت په وخت په افـغانسـتان کې دخارجي او داخلی تاړاکونو له امله زیانمن شوی هم دی .

دغه تاریخي ښار دتیری شاهی په وخت کی له بل هر وخت نه ډیر عصری او ښکلی ودان شوی ؤ . خو په ګران هیواد کې دروساتو او شوروپانو په راتګ سره ، د هیواد دنورو ښارونو او عام المنفعه تاسیـسـاتو په شان ډیر وران ویجاړ او په کنډواله بدل شو . له نیکه مرغه اوس بیا د اسـلامي امارت په پاملرنه او توجـه د بیـا رغـوني له کـبله بیرته ودان شو او پخواني رونق یې بیامونډ . هده دجلال آباد له ښار څخه اته کیلو متره لری واقع ده او دلرغوني بودایي تمدن غـوره مـرکز ګڼل شوی ده چې د باسـتان شناسـی او لرغـون پیژندنی له امله ډیر ستر اهمیت لری . . .

دکامي (کمی) هواره سیمه او ډاګونه ، د سره رود (سرخ رود) ښایسته او ځربه ځمکه او دخو ګـباتیـو لوړه تاپو وزمـه د ننګرهار ولایت د زرخیـز، ځایونو او سیمو څخه شمیرل کیږی .

دننګرهار په ښایسـته ولایت کی د ډبرود سکرو ، ابرک ، دراځجود ډبري او دزمروتو (زمرد و) معـادن وجود لری . سربیره پردی دننګرهـار ولایت د ښو میوو دلرلو له کبله د باغونو او بڼونو د سیمی په توګه هم شهرت لری .

دننګرهار ولایت د جلال آباد په ښاروالی برسیره د ډیرو لویو ولسوالیو په درلودلو غوره ولایت ګڼل شوی او خاص اقتصادی اهمیت هم لری .

دننګرهار تاریخي ولایت دښی ، معتدلی او نرمی آب اوهوا د درلودلو له امله د افغانسـتان په غربنی خاوره کی ډیر وتلی نوم لری . په لرغونو زمانو کی دغه زرخیزه سیمه د ګندهارا په نامه هم یاده شوی ده .

دننګرهار ولایت آب اوهوا د افغانستان د نورو ولایاتو په خلاف ګرمه ده ددغي ګـرمی هوا د درلودلو له کـبله په دغـه سیـمـه او ولایت کی خـاصی موسـمی وني او مخصـوص ځنګلونه وجود لری . په دغه ګرمه او توده خاوره کی دګرمی او تودی منطقی وني لکه نارنج ، سنتره ، مالټه ، لیمو ، چکوتره او خجوره (خرما) په ډیری اندازی سره چی ګڼ باغونه لری وجود لری .

دننګرهار په ولایت کی غرنی ځنګلي وني په زیاتی اندازی ګڼ والی سره لیدل کیږی ، دغه ځنګلي وني عبارت دی له نغوزی ، نښتر ، سرپ (سروی) او ملنځي څخه چی له لرګیو څخه یې په داخل کی پوره او بشپړه استفاده کیږی او خارج ته هم استول کیږی او بوه په زړه پوری صادراتی منبع ګڼل کیږی چې ددغه ولایت دخلکو په اقتصاد کی غوره رول لوبوی .

د ننګرهار اوسنی ولایت په دغو ځلورو خواوو او سرحدونو پوری اړوند اونښتی دی : دننګرهار لویدیځ ته جګدلک او سروبی ، ختیځ ته یې دخیبر تاریخی دره اوسیمه ، دشمال لوری ته یې دکابل سیند او په جنوب کی یې سپین غر موقعیت لری .

دننګرهار تاریخی سیمه او ولایت د پښتو ادب شفاهی (فولکلوری) او تحریری مرغلرو کی په خاص انداز یاد شوی دی چی مور ددغـو مرغلرو له ګڼ امـا ځخه یوه بوه قیمتی غوره دانه د ساری په توګه وراندی کوو :

پاتی لری

ښکلي ګلان
عبدالمتین «وردګ»

په هیـواد کـې موجي کله را پیدا ښکلي ګلان شـي
مور لیدلی لاهم نـه دی سـمدلاسـه بیاخزان شي
دغه سره ، سـره تو پـانـوته را الـوزي له شـماله
چي زموږ کلي کورونه بیا په دغو ښانـدي وران شي
له هر لوری چي را دروسی کـړاوونـه او سخـتی دی
پاک الله دي دمظلومو افغـانـانو نـګهبان شي
ګران هیواد مو لوټي - لوټي کنډوالي شو ورته ګورو
په دي کړو وړو به چي کله پښیمانه ظـالمـان شـي
دپوهني برکت دی خلک ګـرځـي سـیارو کي
خوزموږ پروفیسران هم دځګرو طـرفـداران شي
«متین» وایی اخلاص ورک دی ډیـر کـم شوی
پاک الله ته به دعـا کړو که پر موږ مـهربان شي

دکیني اور
خپلواک ساپی

یام !
په ګرنګ ولاړیي
لړسترګي وغږوه
دایه تاڅه شوېدي ؟
دبوتوروزي توپکي قوماندان
یوه تاپوه په تقلید
تاهم په خپلو سترګو
ایښي دي غېږګ لاسونه
او
دي ناآشنایا زارکي
په دي ترلو سترګو
دځپدار په لته
کله ترکمن کله ازبک جوړشي
کله پښتون ، کله تاجک جوړشي
لړسترګي وغږوه
لږ غونډي فکر وکړه
داځه رنګ اوږځه رنګ فتنه ده
څه رنګ نفرت څه رنګ کینه ده
چي پکي سوځي
لوړآرمانونه
راڼه فکرونه ، راڼه ذهنونه ،
دیوافغان ، یوه وجود او یوه تن
دښیرازي فکرونه
دواحد کور
دیووطن دا یا دي فکرونه
خدایږولوېده دي
دسباون له هـکه
بیرته دشپي لمن ته
اي دافغان بچیه !
یام په ګرنګ ولاړیي
لړسترګي وغږوه

زما ولس زما وطن
محمد ندیم «ندیم»

زمـا ولـس څـه دغمونو ښکارشو
څه دناترسوراکـتیو تـوښکار شو
پکي بل شـوي دجـګرواو رونـه
دتربګنیو او جنـګونو ښـکارشو
وبالي دوبنـو پـکي وبـهید ی
ډیر دپردیو نیر نګونو ښـکارشو
شنه چمونه پکـي لـولپـه شول
لوبشته اوګام مو داورونو ښکارشو
دسره دښـمن دظـلم زوریه وجـه
هم دجازونو اوټانکونو ښکارشو
دبراغبار دي او رتـه لمنـه وهـی
دسرولمبو او انګارونو ښـکار شو
له دښمنیو «ندیم» ګـر کـه کوم
چي مو وطن دنفاقونو ښـکارشو

اعـــلانات

ریاست عـمومی رادیو صـدای شریعت هشت قلم روغنیات از قبیل یکصـدوچهل وهفت هزار و پنجصـد لیتر تیل دیزل .

شصت وچار هزارونه صد لیتر پطرول .

دوصدو هفتاد لیتر تیل خاك .

ده هزارو سـه صدو ده لیتر مبلائیل ۲۰ در ۵۰ صد قطی ویکم . سی وشش کیلو گرام گریس چهار صد وبیست لیتر آب انتی فریز . بیست وچهار گیلن مبلائیل ۲۰ در ۵۰ و چهار گیلن سیائیل مورد ضرورت سال ١٤٢٢ خویشرا قرارداد میتماید .

اشخاص وموسـسـاتیکه خواهش قرارداد آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا بمدیرت تهیه ریاست عمومی رادیو صدای شریعت بسپارند وخود شان از تاریخ ٢٥-٢-١٤٢٢ تـاده روز مراجعه نمایند مشخصات را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد

* * *

وزارت اطلاعـات وکلتـور به هشتاد قلم قرطاسیه باب غیر مطبوع وسیزده قلم مواد تنظیفاتی در سال ١٤٢٢ ضرورت دارد .

اشخاص وموسـسـاتیکه خواهش رسانیدن آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات وزارت اطلاعات وکلتور بسپارند وخود شان از تاریخ ٢٥-٢-١٤٢٢ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد

* * *

شـرکت تهیـه وتولیـد مـواد ساختمانی عیسی جاوید دوقلم چوب تخته ارچه وگچر پنج سانتی و دونیم سانتی مورد ضرورت دستگاه ساختمانی افغانی را به قسمت

مجموعی مبلغ دوصدو نوزده ملیون افغانی میرساند .

مناقصـه کننده گان درخواست های خویشرا به دستگاه ساختمانی افغانی بسپارند وخود شان از تاریخ ٢٥-٢-١٤٢٢ تاده روز مراجعـه نمایند شـرطنامـه راملاحظه کـرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

* * *

ریاست خدمات مسکن چهار قلم جنس مفروشاتی طور ذیل ضرورت دارد .

فـرش راد اروپا گلدار ایرانی مکیت درجه اول به عرض سه متره یکهزار متر .

فـرش راد اروپا گلدار ایرانی مکیت در جه اول به عرض چهار متر پنجصد متر .

فرش پلاستیکی سه تخته ایرانی درجه اول به سایز دو بر شصت شش وسه بر پنجاو شش به تعداد سه هزار تختـه .ارکـین درجـه اول پاکستانی معه شیشه دوهزار پایه .

اشخاص وموسـسـاتیکه خواهش قرارداد انرا داشته باشند در خواست های خویشرا بریاست خریداری وزارت دفاع ملی واقع سرك دوم کلوله پشته جوار چهار راهی انصاری بسپارند و خود شان از تاریخ ٢٤-٢-١٤٢٢ تا ده روز مراجعه نمایند شرایط ونمونه راملاحظه تضمین اخذ میگردد . جواز تجارتی ویاصنفی ملاحظه میگردد .

* * *

ریاست خدمات مسکن وزارت دفاع ملی به شش قلم واحد تطهیریه ذیل ضرورت دارد .

پودر لباس شویی یکتاه ٤٨٠ گرامه ایرانی طبق نمونه تعداد دوهزار قطی . پودر گلس آتا پاکسـتانی ٥٠٠ گرامه طبق نمونه تعداد یکهزار وپنجصد آفلی .

صاف معه دسته پاکستانی را بری درجه اول طبق نمونه یکهزار عدد . صابون جند عنفونی کلچه کلان هندی طبق نمونه تعـداد یکهـزار وپنجصد کلچه ،جاروب مزاری طبق نمونه تعداد دوهزار دسته ،کاغذ تشناب چینایی مقدار یکهزار رول .

اشخاص وموسسـاتیکه خواهش قرار داد آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا بریاست خریداری وزارت دفاع ملی واقع سرك دوم کلوله پشته جوار چهار راهی انصاری بسپارند وخود شان از تاریخ ٢٤-٢-١٤٢٢ تاده روز مراجعه نمایند شرایط ونمونه راملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد . جواز نامه تجارتی ویا صنفی ملاحظه میگردد .

* * *

شاه محمود فرزند فقیر محمد یك باب گاراژ نمبر ۹ واقع تهیه مسکن را ماهانه مبلغ سه صدو پنجهزار افغانی برای مدت دو سال به کرایه میگیرد .

مزایده کننده گان درخواست های خـویشـرا بمدیریت اسناد و ارتبـاط ریاست تدویر ومراقبت مکرورپانها واقـع بـلاك ۲۳ مـکـروریـان اول بسـپارند وخـود شـان از تاریخ ٢٣-٢-١٤٢٢ تاده روز مـراجـعـه نمایند شـرطنامـه رامـلاحظه کـرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

* * *

احمد فهیم فرزند محمد شریف یك باب گاراژ نمبر ٥ مقابل بلاك ٥ مکروریان اول را ماهانه مبلغ یك ملیون ودوصد وشانزده هزار افغانی برای مدت دو سال به کرایه میگیرد مـزایده کننده گـان درخـواست های خـویشـرا بمدیریت اسناد وارتبـاط ریاست تدویر ومراقبت مکرورپانها واقـع بـلاك ۲۳ مـکـروریـان اول بسـپارند وخـود شـان از تاریخ ٢٥-٢-١٤٢٢ تاده روز مـراجـعه نمایند شـرطنامـه رامـلاحظه کـرده میتوانند تضمین اخذ میگردد

* * *

ریاست تدویر ومـراقـبت مکروریان یك باب کلپ جوار بلاك ١٢ مکروریان اول دوکان ۳ ساحه انتری - دوکان تحت بلاك ١٠٦ - دوکان ۲ ساحه جدید رابه کـرایه میدهد .

اشخاص وموسـسـاتیکه خواهش کـرایه گـرفتن آنرا داشـتـه باشند درخـواست های خـویشـرا بمدیریت اسناد وارتباط ریاست تدویر ومراقبت مکروریانها واقع بلاك ۲۳ مکروریان اول بسـپارند وخـود شـان از تاریخ ٢٥-٢-١٤٢٢ تاده روز مـراجـعه نمایند شـرطنامـه رامـلاحظه کـرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

* * *

به اطلاع سـید محمـود فرزند سـید جمیل میرساند تاغـرض حل وفصـل دعـوی خویش از نشر اعلان تا پانزده روز بمحکمه حضور حاضر شود در غیر آن حق شکایت را نخواهد داشت .

دردوره سوم ...

مـــالیؤتخنیکی اداره یونیـــسف وسـازمـان صـحی جهـان در سـراسـر کشـور اغاز گـردیده است به تعـداد سی وهفت هزار نفر از پرسونل صحی وزارت صحت عـامه اشتراك ورزیده که از جمله شش هزار نفر آن را سوپر وایزران ششصـد نفر کوردیناتوران ومتبـاقی آنرا رضـا کـاران تشکیل میـدهد ودر نظر است تا در این دور پنج ا عشـاریه پنج ملیون طفل در سراسر کشور در برابر مرض پولیو یا فلج اطفال واکسین گردد.

محترم وزیر صحت عامه افزود: امارت اسلامی افغـانسـتان باحسن نیت ومسئولیت کـه در برابر اولاد وطن داردآتش بس سـه روزه را طور یك جانبه اعلام نموده است .

محترم ملامحمد عباس آخند به ادامه صحبت شان گفت :تقاضای من از هموطنان مـا این است تا اطفال کمتر از پنج سال شانرا به نزدیکترین کلنیك محـلات زیست برده آنرا واکسین نماید همچنان تیم های سیار واکسیناسیون در هر ناحیه توظیف گردیده اند تا خـانه به خانه رفـته واطفال کمتر از پنج سال را واکسین نموده وبه آنان ویتـامین ای تطبیق نمایند کـوشش مـا این است کـه تا اخیر سال دوهزار یك میلادی این مرض مهلك از افغانستان محوگردد.

طبق یك خبر دیگر کمپاین ملی واکســـیناســیون دیروز در ولایات جوزجان وخوست نیز آغاز گردیده اســــــــت

درولسوالي بهارک

تخارتوزیع گـردید ه است . آژانس اطلاعـاتی باختر خبر داد. مـواد توزیع شده شامل یکهزار سیر آرد پنجصد سیر برنج ویکهزار وسه صد قطی روغن بوده که اخیراً توسط هیات موظف درحالیکه محترم ملا صبغت الله آخند زاده ولسوال بارك حاضر بود به خـــانواده هـا ی بی بضـاعت آن ولسـوالی توزیع گردیده

دمدرسي دبنسټ...

دبنسټ ډېره کـیـبـودل شـوه دغـه مـدرسـه چی ددوه جریبه ځمکی په ساحه کی په پاخه او اساسی ډول جوړېږی لس خونی تحویلخانه اونور ضروری ملحقات بی په پام کی نیول شـویدی .دیوه بل خـبـرلـه مـخی دغزنی ولایت داندړو په ولسوالی کی په دی ورو ستـیـو وختـو کی دیوی مدرسی دبنسټ ډېره کیښودل شوه . دغـه مـدرسـه چی داندړ دولســوالی دکوته سنگی په سیمه کی په پاخه او اســـاسـی ډول په بیو پوړیز ډول جوړیږی او دجوړولو لگښت یی ددغی سـیـمی او سـیـدونکی پـه غـاړه اخیستی ټول ضروری ملحقات یی په پام کی نیــول شــوی دی.

> **تـــوجـــه !**
>
> **ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی حرمتي بگذارید.**

دمعالجوي طب په ...

ملا عبدالحکیم حکیمی په دی باب دباختر اطلاعاتی آژانس له خبریال سره دخبرو په ترځ کی څرگنده کړه : ددغه ریاست مرکزی لابراتوار دتیرو ناوړو پیښو له امله زیانمن شوی او زیاتره وسایل او سامان الات یی له منځه تللی ؤ چی دعامی روغتیـا وزارت په پاملرنه او دنړی دروغتیا ـ یی ســازمـــان او دای . ام. ای مــوســسی په همکاری دغـــه مکروسکوپونه نوی ریجنتونه دارتیا وړ مـحلولات او نور طبی وسـایل بشپړ او بیا جوړ شویدی او اوس هره ورځ څه د پاسه سل لابراتواری کتنی په وړیا ډول ترسره کـوی چی دغـه شـمیر دتیرکال دهمدی مودی په پرتله په سلوکی پنځوس زیاتوالی ښـیی ده زیاته کـړه : په دغـه لابراتوارکی هـمـــداوس ۲٦ تنه مسلکی اشخاص په کار بوخت دی او په پام کی دی چی په نږدی راتلونکی گی دتکنیــشنانو دمــسلکی پوهی دسطحی دلوړولو په خاطر دهیواد په سطحه دټولو تکنیـشنانو لپاره روزنیز کورس جوړ کړو او هغوی په مشخصو څانگو کی روزنی لاندی ونیسو .

دعامي روغتيا محترم..

بـاخـتـر داطلاعاتی آژانس له خبریال سره دمرکی په ترځ کی ددغه روغتـون په چارواکـو باندی دافـغـانـسـتـان داسـلامی امارت له نافذو قوانینو څخه دسرغړونی تور ولگاوه او زیاته یی کړه : ددغه روغتون دوو سر چارواکو یو علی دکتر جیتو او شـاغلی کبیت دغـه پروتوکول مواد چی دعامی روغتیـا وزارت او ددغه روغتون دچارواکو ترمنځ یخوا لاسلیک شوی و نه دی رعایت کړی او دعـامی روغـتـیــا وزارت له مقاماتو سره له تفاهم پرته یی د دغه روغتون خدماتی پرسونل په خپل سرټاکلی او موظف کړیدی . دغه راز دوی په روغـتـون کی د دوی خوړلو دگډی خونی په لرلو او له یو څو سره د نوکـریوالی په اجراکـولو او په روغـتـون کی پرسـونل ته داروپایی جامو په برابرولو او اغوستلو سره داسـلامی امارت دنافـذ وقـوانینو درناوی نه دی کړی او دامربا لمعروف اونهی عن المنکر وزارت له مـوظف هیـات سره یی تریخ چلند کړی او له خپلی شخصی پریکړی سره سم له ایمرجنسی روغتون څخه وتلی دی.

محترم ملامحمد عباس آخند دامر بالمعـرف او نهی عن المنکر وزارت دهدایت اقـدام یو اصـولی او پر ځای کـار وباله او زیاته یی کـړه دعـامی روغـتـیـا وزارت داسـلامی امـارت داصولو او قوانینو درعایتولو او نه رعایتولو په باب ددغه روغـتـون له چارواکـو سره تخنیکی سـتـونزی او مـــشـکلات لرل او په دی باب له هغوی سره څوځلی خبری شوی چی له بده مرغه دهغوی لخوا په روغتون کی عملی اجراات ونه شول .محترم

ملامحمد عباس آخند زیاته کړه : دروغتـون له چارواکـو سره هیڅ راز غیراصولی عـمـل یا چلند ندی شوی بلکی هغوی دروغتـون له رئیس او مـرستیـال سره چی دلاسلیک شـوی پروتوکـول له مـواد و سـره سم دعامی روغتیا وزارت لخوا ټاکل شـوی و/ غـیـر قـانونی چلند کـړی او هغـوی ته یی اجـازه ورنه کــړه چی په روغـتـون کی خـپلو دندوته دوام ورکړی . ده زیاته کړه : سره له دی چی بیا دعامی روغتیا وزارت لخوا هغوی ته تفهیم شوه چی په روغتون کی دی داسـلامی امـارت دشرعی قـوانینو درناوی او رعـایت وکـړی . خـو هغـوی دغی مـــسـالی ته ډیره کـوچنی پاملرنه هم ونه کـړه او له افغـانسـتـان څخـه له وتلو مخکی یی دعـامی روغـتـیـا له وزارت مـشـر تـابـه هیات سره خبری نه دی کړی او دهغو امنیت ته هیڅ راز خطر مـتـوجـه نه و . دعـامـی روغتیا محترم وزیر په پای کی وویل : کـه چیری ددغـه روغـتـون چارواکی بیـا دعـامی روغتیا له وزارت سره خبر واوتفاهم ته حاضر شی موږ دبهرنیو چارو او دپلان د وزارت له لاری تفـاهم او دنوی پروتوکـول لاسلیکو لـو تـه تـیـــــاریو .

درياست الوزرا...

سره یی وکـتـل . دباختر اطلاعـاتی آژانس خـبـر راکـر په دی کـتنه کی په واسی حـال کی چی دخـتـیـځ زون دبهرنیو چارو رئیس محترم مولوی سردارمحمد سـرراز هم حاضر و لومـړی ښـ علی ایدمـیـر ارمـان افغـانسـتان ته دخپل سفر دهدف په اړوند څرگندونی وکړی او وی ویل : موږ غـواړو چی په افـغـانـسـتـان کی دکرنی او بیـا جوړونی په برخـه کی همکاری وکړو په مقابل کی دریاست الوزرأ محترم اقتصادی مرستیال په دی لاره کی داسلامی امـارت لخوا دهر رازیشری فعالیتو اوتوکرستو دترسره کـولو په اړوند داډ ورکړاو ی ویل : مـــونږ دننگرهار دناوی دبرمـخـتـیـا پـه لوی ریاست کی بیـــلابیلی پروژی لرو چی تاسی کــــولای شی دننگرهار دناوی دپراختیادلوی ریاست له لاری دکرنی او دزراعـتـی پروژو دبـیـا ورتیـا په برخه کی له موږ سره همکاری وکړی . دغـه راز محترم مـولوی عبدالکبیر دکـــابل جـــلال آباد دلویی لاری ترمیمولو او بیا جوړولوته داشاری په ترځ کی چی کـار یی دوام لری ددغـه هیـات پاملرنه ورواړوله او وی ویل او س په افـغـانـســتـان کی بشپړ امنیت تامـین دی او دهرراز کـاراو فـعـالیت زمینه برابره شویده چی تاسی کولی شی په ټولو برخـوکی پانگه واچوی په پای کی ددغـه هیــات رئیس دافغـانسـتان له اسلامی امارت سره : هرراز همکاری داډ ورکړاو له محترم مولوی عبدالکبیر سره یی دکتنی له امله خوشی څرگنده کړه .

علمبات مشترک ...

حزب المجدهدین حرکت جهاداسلامی ولشکر طیبه انجام شده است . درحملات متقابل عسـاکر هندی یك منزل طعمه حریق گردیده

تفاهم لیکونه ...

ډیرو گراه دسازمان د دفتر مرستیال ښ علی پیتر کوسن دخپلو خبرو په ترځ کی دهغو اسانتیا وو له امله چی په افـغـانـسـتـان کی دملگرو ملتـو دسازمان ددفترونو دکـار کـوونکو لپـاره دویزی دصادرولو په برخه کی دافـغـانسـتـان داسلامی امارت لخوا برابری شویدی مننه وکړه اووی ویل دنـه هم لیکونو هغه ټول مفردات چی دافغانسـتان داسلامی امارت او په کـابل کی دملگرو ملتود سازمان ددفـتـرونو ترمنځ لاسلیک شـویدی باید رعـایت شی او له هغـو سره سم عـــمـل وشی . ځکه مـونږ هلی ځلی کوو چی له خپلو ظرفیتونو څخه له هغـو یی ځایه شوبو کـــسانو ســره دپیتي مرستی او همکاری په لاره کی چی بیرتیـو مرستوته اړتیـا لری زیاته استـفـاده وشی . ده زیات کړه : دهغـه ســتـونزی او مــشـکلات چی دچارو دترسـره کــولو په وخت کی رامنځته کیږی . باید دتفاهم له لاری حل شی . او په دی برخـــه کی د اسلامی امارت همکاری ته اړتیـا لرو . وروسته دبهرنیوچارو وزارت محترم معین دخپلو خبرو په ترځ کی ووېل تولی مــسالی کیدای شی دتـفــــاهم له لاری حل شی ځکه دافغانستان داسلامی امارت دبهر نیو چارو وزارت په ټولو برخوکی له نړیوالو موســـســـسـو سره داسانتیـا وو دبرابرولو په لاره کی له هیڅ راز هلو ځلو څخـه ډډه نه کـوی . دبهرنیـو چارو وزارت محترم معین دخپلی کـتـنی په پای کی بو ځل بیـا ټینگار وکړ چی تفاهم لیکونه په خپل قوت پاتی دی او په مسلمه تو گه باید د دواړو لوړو لخـــوا رعـــایت شی .

درجاده تاریخي مبوند.

جاده مـیوند که از جمله جاده های قدیمی ومزدحم شهر کـابل به حساب میرود از طی چند سال بدینـسو به یك اد ، باربری وترانســپـورتی مـبـدل گـردیده واین امـر باعث شـده تا از عرض این جاده کا ملاً کاسته شود .

صـدها واسطه باربری بزرگ روزانه در دوطرف این جاده بارگیری شده واز همین جاده جانب برخی ولایات کشور درحـرکت می افـتـند : هکذا توقف وسـائط نیز رفـتـار شخـصـی تجار و دوکـانداران مندوی شهر کابل در کنار وسـائط باربری بزرگ در دوطرف این جاده سبب شده تابك بی نظمی کلی ترافـیکی را به میان آورد ، محتـرم عبدالخلیل نماینده میوند ترانسپورت در زمینه مـیگوید : گرچه مـا اجازه توقف وسایط باربری را روی این جاده نداریم : امـا تاحـال کـسی مـارا درین زمینه ممانعت هم نکرده است .

مـحـتـرم محمود نماینده شرکت باربری ومسـافربری آریا تراکم وسـایط باربری را روی این جـــاده یك امـــر قانونی تلقی نموده میگوید : شـرکت آریانا د داشتن ۱۲۰ عـراده مـوتر از طی چار ســال بدینـســو در جـــمـع ۳٥ - ٤٠ شرکت باربری و مـســافربری دیگر درجاده میوند وسیعاً فـعالیت دارد : البته ما نظر به امر مقام وزارت ترانـــسپورت امارت اسلامی حق داریم که از قـــسـمت بالاحـصـــار کـابل الی سینما پامیر وسایط باربری خویشرا در بالای جاده میوند توقف بدهیم .

حـالا بیـائـیـد بدانیم کـه واکنش دوکـانداران دوطرف جاده مـیـوند در زمینه از چه قرار است :

محترم الحاج اکبرخان مالك دواخانه ویس قرنی : این وضـعیت کاروبار ما را تحت صفر قرار داده است .

مـاروز های مـــشـــود کـه حـتـی « دست لاف » هـم نمیکـنیـم هر دوکـاندار جاده میوند در دوکان خویش پنج تا ده هزار لك افـغـانی سـرمـایه گـذاری نموده است : مگر درخـتم روز ده هزار افغانی مفاد نمیکند .

وی به ادامـه سـخنان خـویش می افزاید : از آنجائیکه امروز طالبان همه نابسامانی های جامعه را کلاً نظم داده اند باید آنان باور نظرداشت مـشـکلات مردم درین زمینه جاده میوند را نیز یك نظم وترتیب خاص بدهند : چراکه ابتکار از قدرت طالبان پوره است .

محترم علی جان یکتن از چینی فروشان جاده میوند :

موجودیت وسایط بزرگ باربری در دوطرف جـاده مـــیـوند از اهمـیـت موقعیت دوکان های دوطرف جاده جداً کاسته است . ما فروشات خوب نداریم و دوکـانهـا ی مـا از دید مردم کـاملاً دور و پوشـیـده افـتـاده است ، باید ریاست ترافـیك برای این وسـایط یك پارکینگ عمومی ایجاد نماید .

وقتی از محترم عبدالرحمن راننده تکسی کرولا نمبر ۲۲۸۷٤ در حالیکه وی در کنار چندین تکسی دیگر در وسط این جـاده قـرارداشت وانتظار سواری را میکشید ، پرسیدم که آیا توقف شما در وسط جاده عمومی کدام مجـوز قـانونی دارد یاخیـر ؟ چنین گفت: البته نی : ولی گپ اساسی این است که وقتی در یك ساحه ترافیکی ترافیك پولیس موجود نباشد هرکس جـرئت مـیکند کـه هرچیـزیکه دلش بخـواهد بکند . از اینکه همین حالا روی جـاده پولیس ترافـیك نیـست ویبروبار مردم هم درهمین جاده خیلی زیاد است وسواری خوب پیدا میشود ما مجبور هـستیم که ایستاد شویم وسواری بگیریم .

بلی خوانندهء عزیز ! قانون یگانه وسیله ایست که میشود با تطبیق آن نظم و انتظام کلی را در تمام عرصه های اجتماعی و.... جامعه تأمین کرد وسبب رفاهیت وآسایش همگان واقع شد : از جانبی هم با اندك تخطی وسرکشی از قانون نظم اجتماع کاملاً برهم خورده وآنگاه ایـست که مـشکل برمشکلات فزونی میگیرد ؟ از اینرو شاید ریاست محترم ترافیك شهر کابل در زمینه رفع این پرابلم توجه مبذول نماید . مهربان

بوه ډله...

کاوه په دی وروستیو وختو کی د امنیتی موظفینو لخوا ونیول شول او دقانون منگولو ته وسپارل شول .

دباختـر اطلاعـاتی اژانس خـبـر راکـر : دغی ډلی چی زموږ دهیـواد والو دمـــالونو په لوټولو یی لاس پوری کـاوه دکـابل کندهار دلویی لاری په اوږدو کی دلوگـر مـیـدان د امنیـتی چارواکـو دهلو ځلو له امله پداسی حال کی ونیـول شول چی یو مـازدا مـوټر چی د دری سـوه لکو پاکـسـتانی کلداروپه اوږښت دولس تنه ټوکران یکی بار ؤ زموږ له یو تن هیوادوال څخه غلا کړی و.

دلوگر ولایت د امنیه قومانداني دچارواکو لخوا دولس تنه ټرلاسه شوی ټوکران له موټر سره بوځای اصلی خاوند ته وسپارل شول او شوکماران د قانون منگولو ته وسپارل شول .

مساعدت ...

مقدار آرد ، روغن ، برنج ، شکرمواد سوخت کمپل خیمه والبسه میباشد اخیراً برای دوهزار فامیل بیجا شده در کمپ های مسلخ روضه باغ ومنازهای شهر هرات توزیع گردیده است . موسسه متذکره در جریان سال گذشته برای ۸۰۹ فامیل مها جرمواد امداد بشری نیز مساعدت نموده . واکنون نیز آماده گی دارد که برای یك هزار خانواده دیگر مواد خوراکی والبسه درشهر هرات مساعدت نماید . همچنان دربخش زراعت پروژه های راتحت کار داشته وعلاوه برحفرچاه ها دریاك کاری کاریز ها تهیه ونصب واتربمپ درولسوالی شیندند ومربوطات ولایت فراه با مردم مناطق متذکره همکاری می نماید .

فلسطينيان ...

داسرائیلو او فلسطینیانو ترمنځه په پراخیـدونکی شخړی باندی غوراو بحث کـیـږی . فلسطینی مشـریا سرعرفات چی په قاهره کی دی وویل چی فلسطینیـان په گونډو کیدونکی ندی . دبخوا داسرائیلو هلیکوپټرونو په داسی وخت چی عـربی وزیران جرگـه کـیـدل په لویځه غـاړه دفلسطینیـانو په امنیتی دفترونو برغلونه کـړیدی . په راپور ونوکی ویل شـویدی چی گڼ کـسـان ژوبل شویدی . داسرائیلو امنیتی ځواکونو سره په نوروښتـوکی دوه فلسطینان هم شهیدان شویدی .

دښاغلي قادري...

کی گډون کـوی چی ټینگ امنیتی گامونه پورته کړای شویدی خلک قـهـریدلی خـو په لاهور کی دسنی تحریک دملاتړو او پولیسانو ترمنځ اخ ودب شـوی او پولیـسـو د مظاهره چیانو دخورو لو لپاره له اوښکی بهوونکی گاز نه کاراخیستی دی خبریالان وایي چی دښاغلی قادری ملاتړی باورنه لری چی پولیسان به دغه وژونکی پیدا کړی . دوی غواړی چی په خپله قاضیان شی .

دلوگر په ...

دباختـر اطلاعـاتی اژانس خبر را کـــړ : په دغی غـــونډی کی چی د شهیدانو او مهاجرینو دچارو وزارت دمعین محترم مولوی محمد صدیق اخند زاده او دلوگـــر ولایت د پوهنی درئیس محتـرم مولوی عنایت الله په گـډون جـوړه شـوی وه د ښاوالو د اسلامی امارت هڅلونه چی د اسلامی شریعت د پوره تنفیـذولو په لاره کی ورځ په ورځ پراختـیـا مومی دخلکو دخیر او فلاح ضامن وباله.

دغه جومات چی د انوار محمدیه په نامـه نومـول شـویدی د دوه جریبه ځمکی په ساحـه کی دعـمـر خیلو او پاینده خـیلو د قـومـونو په لگښت جوړیږی دانوار محـمدیه دجومـات ځمکه دمردبخیلو دقوم لخوا وقف شویده

کمونستها ی خلق و..

جنایـتکاران جـنگ آورده شـــد وپناهندگی ایشـان درحـالت تعلیق درآمد ه است از جمله این کمونست ها نوراحـمـد نور ، عـبـدالقـدوس غـوربندی، جنرال حـسـام الدین ، جنرال علومی ، جنرال حلیم ، جنرال خلمی ، حبیب منگل ،خیال محمد کتـوازی، جنرال نبی عظیـمی ، کریم میثاق ، اسدالله کشتمند ، روشان برادر نجیب ، جنرال اماء الدین ، فرید مزدك ویك عده زیاد دیگر که پروسه تحقیقات ومحاکمه آنها انجام پذیرفته است درج میباشد . مقامات محاکمه بین المللی هاگ ، لاهه از همه مردم افغانستان تقاضا ی همکاری نموده وآرزو دار کـــابکه شاهد جنایات کمونست ها درکشتار های عـمـومی ، قـتـل ها ی انفرادی نقض حقوق انسانی وچپاولگری با ... ندها ما همکاری نمایند .

دگونړ په ...

ووژل شو . دباختر اطلاعـاتی آژانس خـبـر راکړ هغه پراخ اورچی دکونړ ولایت دشینکورک او دشوریک په طبیعی ځنگلونو کی لیگدلی ووژل شــو او په دغـو ځنگلونو کی داور لگیدنی له امله رسـیـدلی تاوانونه تراوسه پوری په بشپړه توگه ندی تثبیت شوی . دکونړ ولایت دکونی اومـــالداری ریاست داور لگیـدنی دانگیـزی او علت دڅیـرنی او له دی امله د رارسـیـدلو تاوانونو داندازی دمعلومولو په مقصد خپل فنی هیأت سیمی ته استولی دی چی موضوع په هراړخیزه توگه وڅیړی او چارواکوته ریـوټ ورانـدی کــــــــړی .

ادویه تولیدي ...

گذشـتـه به ضـرورت متدان توزیع نموده است . آژانس اطلاعاتی باختر به قــول یك منبـع امــور فـارمـسی خبر داد . همـین اکنون ســیـزده باب ادویه فـروشی ویك باب عـمـده فروشی درمرکز کابل یك باب عـمـده فروشی و چهـار باب ادویه فروشی در زون شرق یك باب ادویه فـــروشی درولایت غزنی یك باب ادویه فـروشی وعـمـده فـروشی درولایت هلمند و ۱۲ باب ادویه فـروشی ویك باب عـــمـده فـــروشی ادویه درزون شمال فعالیت دارند . محترم مولوی عصمت الله مسلم رئیس اداره متذکره گفت :تولید این موسـسه با کیفیت عالی که دارد میتواند باادویه جات تولیدی سایر کمپنی های خـارجی رقـابت نماید .

دراثر حمله ...

کـوفی عنان سرمنشی سـازمان ملل متحد تجاوزات وبمبارد اشغالگران صهیونیست را بالای مناطق خود مختار فلسطینی شدیداً محکوم نموده است .

طبق گـزارش از اثر این حملات وحشیانه وغیر انسانی که بالای چها رشهر عمده فلسطین صورت گرفت دست کم دوا زده فلسطینی شهید گردیده است .

ایالات متحده امریکا از جناح های فلـسطینی و اسرائیل تقاضا بعمل آورده تاخویشتن داری از خود نشان داده و اماده گی را جهت به میان امدن یك اتش بس نشان دهند .برخورد های اخیـر شدید ترین تصادمات میان مـجـاهدین فـلـسطینی واشغالگران صهیونیست در سالهای اخیر خوانده شده اســــــت .

عملیات مشترک ...

حزب المجدهدین حرکت جهاداسلامی ولشکر طیبه انجام شده است . درحملات متقابل عساکر هندی یك منزل طعمه حریق گردیده است .

SHARIAT DAILY

Published by :

Islamic Emirate of Afghanistan

Chief Editor:

Alhaj Mulla Assadullah ,Hanifee,

Editor: Ghulam M. Farooq